د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت اطلاعات و فرهنگ

# د افغانستان د ملي تیاتر ریاست داخلي کړنلاره

کال: ۱۳۹۵ ل.ل

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضعې اړتیا**

**لومړۍ ماده:**

دا کړنلاره د افغانستان د ملي تیاتر ریاست د اړوندو کاري چارو د ښه والي او سمون په موخه وضعه شوې ده.

**موخې**

**دویمه ماده:**

د دې کړنلارې موخې په لاندې بڼه دي:

۱ – په علمي او اکاډمیکو بڼو په ټول هېواد کې د تیاتر هنر پراخول.

۲ – د ملي او فرهنګي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د هېواد په کچه د تیاتر هنر د پرمختګ او پیاوړي کولو لپاره د ارزښتمنو او سوچه آثارو وړاندې کول.

۳ – د بومي فرهنګ بیا رغول او د ننداریز هنر په مرسته د نړۍ نورو ملتونو ته ور پېژندل.

۴ – په علم، فرهنګ، هنر، سیاست او نورو برخو کې د مشاهیرو او لویو تاریخي شخصیتونو د نوم او ویاړونو ژوندي ساتل.

۵ – د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د پوهې د وړتیاوو لوړولو په موخه د نورو تیاترونو په کچه د لوبو د تیاتر دودول.

**اصطلاحات**

**درېیمه ماده:**

په دې کړنلاره کې اصطلاحات لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱ - تیاتر: هغه ځای ته وایي، چې هلته تیاتري نندارې وړاندې کېږي.

۲ – سټېج: هغه ځای دی، چې په هغه کې ډراماتیکې پېښې او تیاتري نندارې ښوول کېږي.

۳ – کارکوونکي: هغه اشخاص دي، چې په یوه ننداره کې له پیله تر پایه ولوبېږي.

۴ – مکیاژ: په ننداره کې د شکل او څېرې بدلولو ته وایي.

۵ – غږ: هغې موسیقي ته وایي، چې نندارې ته د ریښتنې جلوې ورکولو لپاره کارول کېږي او د هغې په مرسته د هنرمند او صحنې حالت انځورېږي.

۶ – لایټ (څراغونه): هغو مرستندویو رڼایي وسایلو ته ویل کېږي، چې د نندارې پر مهال د وخت او ځای ځانګړي کولو، پردې او صحنې ته د ریښتینې جلوې لپاره کارول کېږي او د مختلفو رنګونو لرونکي وي، چې هر رنګ یې په ننداره کې د یو حالت ښودونکی وي.

۷ – ننداره: ننداریيز ليک ده، چې په هغه کې ډراماتيک احساسات، واقيعتونه او پېښې انځور شوي وي.

۸ – امپروايزېشن: هغو فزيکي تمريناتو ته وايي، چې مخکې له ننداري څخه د تمثيل لوبغاړو د چمتو والي لپاره کارول کېږي.

۹ – فيستيوال: هغه مراسم دي، چې چمتو کوونکي يې د ښه راتلونکي لپاره په هنري او فرهنگي برخو کې د هنرمندانو تر منځ پيلوي او په هغو کې کورني او بهرني هنرمندان خپلې لاسته راوړنې ننداري ته وړاندې کوي.

۱۰ – د ماشوم تياتر: هغه ننداري دي چې په روزنيزه، اخلاقي يا کيسه ييزه بڼه وړاندې کېږي او مخاطبين يې ماشومان وي.

۱۱ – د نانځکو تياتر: چې په تمثيل کې نانځکې د انسانانو پر ځای رول لوبوي.

۱۲ – موبيل تياتر: هغه گرځنده تياترونه، چې په لارو او طبيعي ځايونو کې له سټېج پرته په گرځنده بڼه اجرا کېږي.

۱۳ – تله تياتر: هغو زنځيري تياترونو ته وايي، چې په ثبت شوې او يا هم په ژوندۍ بڼه اجرا کېږي.

## دويېم فصل

## د ملي تياتر رياست مسوولیتونه

<u>**مسووليتونه**</u>

**څلورمه ماده:**

۱ – د افغانستان ملي تياتر يوازينۍ با صلاحيته مرجع ده چې په ملي او نړيواله کچه د تياتري جشنوارو برابرول يې يو له دندو څخه ده.

۲ – په مختلفو برخو ( کارگرداني، ليکوالي، لوبېدو، امپروازېشن، مکياژ، لايټ (څراغ)، غږ او نانځکو جوړولو) کې د هېواد د هنرمندانو د وړتيا لوړولو لپاره د ملي تياتر په کارگاه کې د کورنيو او بهرنيو مجربو استادانو په مرسته د زده کړو ورکشاپونه برابرول.

۳ – له کورنيو او بهرنيو ارگانونو سره اړيکې او د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د مقام په تاييد د تياتر د فستيوالونو په نندارو کې گډون کول.

۴ – د سټېج پر سر په معاصرو او کلاسيکو کړنلارو د ژونديو تياترونو برابرول او خپرول چې له ملي، ديني، اخلاقي او فرهنگي پېښو سره سمون ولري.

۵ – د ښو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د هنري استعدادونو د پياوړي کولو لپاره د برياليو او ممتازو لوبغاړو هڅول.

۶ – په ښوونځیو، روزنتونونو او نورو ښوونیزو مرکزونو کې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د ذهني استعدادونو د پیاوړي کولو په موخه په (ښوونیزه، روزنیزه او زده کړییزه) بڼه د ماشومانو لپاره د تیاتر ترسره کول.

۷ – د نانځکو تیاتر په مختلفو برخو کې د روزنیزو ورکشاپونو دایرول.

۸ – د نانځکو تیاتر د پراختیا او پیاوړتیا په برخه کې د علمي کادرونو روزل.

۹ – د ماشوم د تیاتر، جامو او نانځکو طراحانو جلب او جذب.

۱۰ – د ماشومانو لپاره د ښوونیزو او زده کړه ییزو ننداررو برابرول، ترسره کول او د ماشوم تیاتر ځای ته له کورونو او روزنتونونو څخه د ماشومانو رابلل.

۱۱ – د مرستندویو مؤسسو او اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په ملاتړ په ملي او نړیواله کچه د نانځکو تیاتر د کلني فستیوال چمتو کول.

۱۲ – په مرکز او ولایتونو کې د ماشوم تیاتر، ورکشاپونو جوړول.

۱۳ – د ګرځنده (موبیل) تیاتر په بڼه په کلیو او د ښار په مختلفو مرکزونو کې د زده کړییزو، ښوونیزو او روزنیزو اثارو وړاندې کول.

۱۴ – د مادي او معنوي مرستو د ترلاسه کولو لپاره له کورنیو او بهرنیو مؤسسو سره د فرهنګي او هنري اړیکو ټینګول.

۱۵ – د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ټولیزو موخو د پلي کولو لپاره د هېواد په کچه د تیاتر برنامو او موخو د پلي کېدو کنټرول او څار.

۱۶ – د پښتو او دري ادبیاتو د پراختیا په موخه د تاریخي او حماسي کیسو په کارولو سره په کلاسیکه او نوې بڼه د ننداریيزو ادبیاتو پراخول.

۱۷ – د ولایتونو د تیاتر د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو او د هغوی د ودې په موخه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مقام او د مرسته کوونکو مؤسسو په ملاتړ د تیاتر د یو شمېر استادانو استولو د زمینې برابرول.

۱۸ – د امکاناتو په پام کې نیولو سره د سیمې په کچه د تیاتر فستیوالونو ترسره کول.

۱۹ – د لوړو تیاتري ننداررو برابرول.

۲۰ – د هنرمندانو د انسجام او هنري فعالیتونو د ښه سمون په برخه کې د ملي، دیني او فرهنګي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د تیاتر پالیسۍ د پراختیا لپاره د زمینو چمتو کول.

۲۱ – له کورنیو او بهرنیو مؤسسو سره د انټرنیټي ویبپاڼو او ټولنیزو شبکو له لارې د اړیکو ټینګول.

۲۲ – د اړوندو ادارو په همکارۍ په تیاترځای کې د علمي او اکاډمیکو سمینارونو جوړول.

۲۳ – د ټولیزو رسنیو له لارې د تله تیاتر ننداررو برابرول او خپرول.

۲۴ – د تیاتر هنرمندانو او کارکوونکو لپاره د هنري فعالیتونو د زمینو چمتو کول.

۲۵ – له منظور شوي پلان سره سم د ترسره شويو اجرآآتو د راپور وړاندې کول.

۲٦ – د نورو اړوندو دندو اجرا کول، چې د وزارت د مقام له لوري د قوانينو د حکمونو، نورو تقنيني اسنادو او وزارت له ستراتيژۍ سره سم سپارل کېږي.

## دريېم فصل

## د نورو تياترونو په وړاندې د ملي تياتر مسوولیتونه

<u>**مسووليتونه**</u>

**پنځمه ماده:**

د افغانستان ملي تياتر رياست د خصوصي تياترونو او په مرکز او ولايتونو کې د نورو تياترونو تر څنګ لاندې مسووليتونه لري:

۱ – د پرمختګ او پياوړتيا په موخه په مرکز او ولايتونو کې د دولتي او خصوصي تياترونو ملاتړ.

۲ – د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مقام په ملاتړ په ولايتونو کې د تياترونو بيا را ژوندي کول.

۳ – د هغو غوښتونکو لپاره چې په شرايطو برابر وي، د خصوصي تياترونو د فعاليت جوازونو ثبتول او صادرول.

۴ – د افغانستان د ملي تياتر رياست له کاري پلان سره سم د خصوصي او ولايتي تياترونو د کاري پلان برابرول.

۵ – د ولايتي تياترونو د کړنو او فعاليت راپور اخيستل.

٦ – د تياتري فعاليتونو څېړنه او ارزونه او همدا راز د ولايتي تياترونو د پياوړتيا په برخه کې هڅې کول.

۷ – په مرکز او ولايتونو کې د دولتي او خصوصي تياترونو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول او د اړيکو ټينګول.

۸ – د جشنونو په جوړولو کې د ثبت شويو تياترونو بلنه.

۹ – د ارزښتمنو اثارو د خپرېدو او د تياتر د نورو فعاليتونو په برخه کې د کاري هڅو د زمينو چمتو کول.

۱۰ – په مرکز او ولايتونو کې د تياتر فعاليتونو او کاري انډول په موخه د ټولګټو پروژو ورکړه او وېش.

۱۱ – د معاصرو او پرمختلليو ننداړو د جوړولو لپاره د مسلکي او اغېزمنو مشورو وړاندې کول.

## څلورم فصل

## وروستي حکمونه

**د پلي کېدو ساحه**

**شپږمه ماده:**

دا کړنلاره د افغانستان ملي تیاتر په ریاست کې د پلي کېدو وړ ده.

**تعدیل**

**اوومه ماده:**

د دې کړنلارې مواد د افغانستان د ملي تیاتر ریاست په وړاندیز او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په منظورۍ د تعدیل وړ دي.

**د نافذېدو نېټه**

**اتمه ماده:**

دا کړنلاره د اطلاعاتو او فرهنګ د مقام د منظورۍ له نېټې وروسته نافذېږي.

دا کړنلاره په (۴) فصلونو او (۸) مادو کې په ۱۳۹۵/۱۰/۱۱ نېټه نافذه شوه.

د تدوین کمېټه

| | | |
|---|---|---|
| عبدالحسیب شریفي | محمد حسیب حیات | سید منصور رحماني |
| د پالیسیو د پراختیا کارپوه | د تقنین او پالیسي رئیس | د ملي تیاتر ریاست سرپرست |

دلاور نذیر زوی

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مشاور

وکتل شو

منظور دی.